دانټرنيټ دفارسي سرچينوڅخه
ژباړونکی ؛ عزيزاحمد خوارمل

# ناټو« NATO »

# او

# دناټو« NATO »  پيژندنه !

دوولسمه برخه

## ناټو،ګرجستان او اوکرائين : په تيروخت کې،اوسمهال اوپه راتلوونکی کې!

داوکرائين اوګرجستان پر غړيتوب باندی وناټوته  په کلکه  سره ډيربحثونه  رامنځته  سوی  دی اوخصوصآ دګرجستان دوروستيوتول ټاکنونه راپه دی خوا يو ځل بيادناټوپراختيادروسيی ترپلو(سرحداتو)پوری دغه امر ډيراهميت يې پيداکړی دی . لاوروف دروسيی دبهرنی چارو وزير څه موده مخکی يې اعلان وکړ : پوتين  داپرائل په مياشت کې دلمړی ځل دپاره د(۲۰۰۲) ميلادی کال څخه راپه دی خوا په بخارست کې دناټواودروسيی د مشرانوپه ګډه غونډه کې  ګډون کوي .
دناټوورتګ دقفقازوسيمی ته اودهغه نږدی کيدل دروسيی وپلواوسراحداتوته  دشوروي اتحاد دړنګيدوڅخه پيل سوی دی ، اوددی ړنګيدوراوسته داهسی يو حالت اووضعيت  رامنځته سو چې ناټو وکولای سو وخپل  امنيتی سيمی ته پراختيا ورکړی . دهمدی امله ناټو ودوه ميتودته يې لاس وراوچول
:
 لمړی -  دشمالی اتلانتيک دمرستی دشورای  درامنځته کولو دلاری  .
دوهم- دسولی دپاره دګډون طرحه  اوپه دی هکله کړنی .
**په (۱۹۹۲)** ميلادی کال کې ټول خپلواک اودګډوګټوهيوادونه دشمالی اتلانتيک دمرستی دشوراپه غړيتوب سره  ومنل سول اودناټوسره دنظامی اودفاعی مرستودپراختيا دپاره دسولی دپاره دګډون طرحی  رامنځته سول .ګرجستان او اوکرائين په همدی ډول سره د دی  طـــرحه اوړانديز نه يې ملاتړاو ګـــډون په کې وکړ .
ګــرجستان  همدارنګه په **(۲۰۰۴) ميلادی کال کې په عملياتی  کړنلاروکې دځانګړی ګډون** NATO Topics: Individual Partnership Action Plans  « **IPAPs** » **په توګه  په (۲۰۰۲)**ميلادی کال دنوامبردمياشتی په غونډه کې يې چې په پراک يې جوړه سوی وه ګډون وکړاودهغه وخت راپدی خوادناټوسره مرستی کوی .

یوه بله کړنلاره چي ګرجستان او اوکرائین یي دناټوسره لری اودناټوسره یي رانږدی کړی دی ،هغه دخبراترویوه هراړخیزه کړنلاره ده او دیوپړاوترسرلیک لاندی ونظامی تړون ته مخته تر بلنی نه دهغه دغړیتوب عملیاتی کړنلاره څیړل کیږی .

# اوکرائین اوناټو:

اوکرائین په ګړندیتوب سره دخپلواکی داعلانولونه وروسته په (۱۹۹۱) میلادی کال کي خپله مرسته یي دناټوسره پیل کړاودشمالی اتلانتیک دمرستی دشورا (داوروااتلانتیک دګډون دشورا)فعال غړی سو اوپه (۱۹۹۴) میلادی کال کي دلمړنی هیوادپه توګه د **CIS/**
Nato Communicatie en Informatie systemenدناټود سولی دطرحی دپاره ،**PFP** / **NATO Topics: The Partnership For Peace** و ګډون ته یي خپل پیوستون اعلان کړ،ددی سازمان موخی دناټوپه غړی هیوادونوکښي دامنیتی ګواښونه په وړاندی مبارزه اودسولی تامینول اودهغه څخه ساتنه ده . دااوسمهال اوکرائین دمرستی دګډون دمنشورپه لاس لیک کولوسره په جلاتوګه سره په (۱۹۹۷) میلادی کي دناټوسره وخپلومرستوته یي پراختیا ورکړده .
داوکرائین سوله ساتونکی ځواکونه دناټودځواکونوسره په ګډوعملیاتوکي یي په بوسنیا،هرزګوینا،افغانستان اوپه عراق کي ګډون وکړل ،همدارنګه داوکرائین ملاتړ دتروریزم پرضدپه مبارزه کي داوکرائین دهوایی نظامی ځواکونوانتقالات اولیږدل دمتحدینودځواکونوپه منځ کي په افغانستان کي دپراخه جاراو جنجال سبب هم ګرځیدلی دی ،اوکرائین همدارنګه دناټوترمشری لاندی اوخپل دنظامی ځواکونودلیږدواوکمیدوپه سوچ کي دی ، دمدنی ټولنی دکنترول په زیاتوالی سره ددفاعی اوامنیتی تشکیلاتواوجوړښتونو اودتسلیحاتواودپاته سوی مینونودراټولولواودپاکولو دترسره کولوپه حال کي دی ،داوکرائین اودناټو ترمنځ دمرستوپراختیا ددی سبب ګرځیدلای دی ترڅویو داسناداوداطلاعاتودراکړی ورکړی دپاره داوکرائین په پلازمېنه کیف کي یومرکز جوړاورامنځته سی چي دغه کړنی دناټورول یي وروسته ترسړی جګړی داوکرائین وخلکوته یي راڅرګنده کړی ده .
سربیره پردی ناټوپه (۱۹۹۹) میلادی کال کي داړیکو یو دفتراوڅانګه یي په کیف کي په **PFP** کي د اسانتیا ګډون او همدارنګه داوکرائین نه ملاتړدنظامی اصلاحاتودپاره یي پرانستل سویدی .
په (۲۰۰۸) م کال کي دجنوری په میاشت کي جمهور رئیس یوشچنکو،لمړی وزیره تموشنکو اودپارلمان ویاند یاتسنک ،دناټو ومشرهوپ دپ شفر ته یي داوکرائین د غړیتوب په هکله وناټوته یي غوښتنلیک وړاندی کړاووده ته یي ورتسلیم کړ. په دغه غوښتنلیک کي داوکرائین غړیتوب یي دناټوو**(MAP)** **NATO Topics: Membership Action Plan** /ته یي مطــرحـــه کــړه وه او اوکرائین غوښتنهيي کړه وه چي داقتصادی ،اداري ،دفاعی او امنیتی چارو دهم سطحه کیدودجوړښت سره دناټودالزاماتوسره سم به مرسته وکړی ،که څه هم په **MAP** **کي غړیتوب** تضمین کوونکی دی مګر دناټوپه تړون کي غړیتوب نه ګڼل کیږی ،همداسی ددغسو پیښوپه شان دختیځی اروپا دهیوادونوپه هکله دپړی کړنی رامنځته سوی دی ،اودغه کړنی داوکرائین دپار دپردعلاقی وړ دی . څکه د (MAP) پخوانی غړی لکه بلغاریه ، لتوني، لیتوانیا، رومانیه ، اسلواکیا اواسلووني په (۲۰۰۴) م کال کي ټوله دناټوپه غړیتوب سره ومنل سول.
داوکرائین دغه غوښتنه په (۲۰۰۸) م کال داپرایل په میاشت کي دناټودمشرانوپه سرمشریزه غونډه کښي چي درومانیی په پلازمېنه بخارست کي پرانستل سول ،مګر څرنګه چي داوکرائین هیواد دهغه هیله مندوو ترڅو دناټومشران پریکړنده پریکړه لیک داوکرائین دغړیتوب دپاره (۲۰۰۸) م کال کي رامنځته سی اوداکرائین به پوره غړیتوب په (۲۰۱۰) م کال کي ترلاسه کړی اودا پریکړه عملی سی ،مګر داهسی ونه سوه چي ددی نظامی تړون غړیتوب دی ترلاسه کړی . په همدی ډول اوکرائین خپل دپیوستن دپاره وناټوددی غوښتنلیک دوړاندی کولودنیتي څخه راپه دی خوا په ناټوکي مخالفتونه داوکرائین دغړیتوب په باب ډیر سویدی ،داوکرائین په پارلمان کي ،دسیموپه نوم ګوند اوکمونست ګوند داوکرائین دغړیتوب سره وناټوته اودیوشچنکو، تیموشنکو او یاتسنیك خبراتری یي دناټوداستازو اودناټودسرمنښی سره بیله دپارلمان دمشوری اواجازی نه یي وبلل او په کلکه یي وړاندی

اوخبراترو سره يې مخالفت اواعتراض يې وکړ،دپارلمان استازو دخلکوټول پوښتنې ته يووړاندیز ی دلړلیدونو دسنجولواوداوکرائین دخلکودوټونوپه نظرکې لرلوسره په ناټوکې داوکرائین دغړیتوب دپاره يې راوړاندکړ،دپخوانیو لړلیدونواوټول پوښتنوپایلې په ښکاره توګه يې څرګنده کړی وه چې داوکرائین خلک په دی باندی خوښ نه دی ،علاقه اومینه نلری چې اوکرائین دی دناټو غړی دی سي او واقعیت خودا دی چې په رښتیا سره *ورکوونا رادا( داوکرائین ملی پارلمان )* ددغو دووګوندونو لخوا چې دروسيې سره دپراخه اوښو اړیکو درلودونکی دی اوددی اړیکوڅخه ملاتړ کوی تحت الشعاع قرار نیولی دی .

# داوکرائین دخلکو موضع :

اوسمهال داوکرائین ټول خلک ، ځانله اوپه جلاتوګه سره دخپلولړلیدونو اومختلفوسیاسی عقایدوڅخه ،ناټوکې داواکرائین دغړیتوب سره مخالف دی ،اودخلکودغه مخالفتونه داعتراض امیزه مظاهریوپه ترڅ کې اودکاغذدسپینوپاڼوپرمخ داوږده لاسلیکونوپه کولوسره دروسيې سره داړیکو په ملاترراټول سوی دی ،اودغه کړنې ددی څرګندیو دی چې داوکرائین دغړیتوب کړنلاره هم په (۲۰۰۴) م کال دسپټامبردمیاشتی پر (۱۴) څوارلسمه نیټه باندی ددغوکلکودمخالفتونوله کبله کنګل پاته سواودابه ممکن په ناټوکې داوکرائین دپراخه فعالیت سره په تیره لسیزه کښې په توپیر کې ولیدل سی .

همدا رنګه اوسمهال اوکرائينيان داروپا واتحادیی ته دورګډیدواوداخلیدواوددی اتحادی وغړیتوب ته يې ډیره مینه لری اوددی غوښتونکی دي چې دهغه په چوکاټ کې په قانونی ګډکار،دکالیواودموادودځای پرځای کولودپاره په نامحدوده توګه باندی ،پانګه والی چاری او دپانګه اوچونی دندی اویوشمیر کسان داروپا داتحادی دپلو(سرحداتو) په منځ کې يې سره راټول کړی .اما داوسنی لاسته راغلی پایلوپربنسټ اوکرائین تر(۲۰۱۷) م کال پوری نه سی توانیدلای اونه سی کولای چې داروپا داتحادیی غړیتوب دی ترلاسه کړی . ځکه لمړی خوباید داوکرائین اقتصاد داروپا پرقوانینواومعیارونوباندی برابرسی.په رښتیا سره هم داوکرائین غوښتنه اوپیوستون وناټوته دناټودنظامی ملاتړددلیل پربنسټ باندی،نوددی هیلی په تمه ده چې داروپاداتحادیی دروازی ددی هیواد پرمخ باندی راخلاص دی .

# اوکرائينيانوته دناټوپه هکله زده کړی

دناټودغړی هیوادونو اجرائیوی پریکړی دټولو غړیودلړلیدونواوټونوپر بنسټ باندی رامنځته کیږی . په اکرائین کې دیوی ملی ټول پوښتنې دپرانستلواورامنځته کیدلوپه صورت کې ددوي په قضاوت کولوسره به په پریکړنده توګه ګټور وی .هوپ دپ شفر دناټوعمومی رئیس ،د(۲۰۰۸) م کال په تیر دوبی کې دازادی دراډیوپه یوی مصاحبی کې وویل : پرناټوباندی ګوتنیونی داوګرائينيانومشروع حق دی یوازی دهغه دلړلید دبدلون دپاره ناټودخرڅلاو تړون نه دی ، بلکی توضیح دادی چې ناټوڅه دی . په اوکرائین کې ددی تړون دلړګرانښت په لیدوسره ،دناټو اجرائیوی مسئولینو دیو ټولیزی داطلاعاتودورکولو دلوی کمپاین په جوړه ولواوپیل کولوسره يې لاس پوری کړی دی .

# ناټوته داوکرائین دغړیتوب په وړاندی دروسيې دریځ :

روسيې دناټودپراختیا په وړاندی خپل دپخوانی محدودی څخه يې مخالفت کړیدی اودروسيې جګپوړی چارواکی په ښکاره اوزغرده توګه سره داوکرائین نه چې دناټوشاته روانه ده خپله ناخوښی څرګنده کوی . په همدی ډول روسيې اعلان کړی دی چې دروسيې اوداوکرائین ترمنځ دټولیزی نظامی ،صنعتی چارو اومرستو په ادامه ورکولوسره دکیف داړیکوپرپراختیا دناټو سره تړلی دی .

روسيې همدارنګه داوکرائین دغړیتوبه څخه وناټو ته داوکرائین وخلکو ته يې ویلی دی چې دغه پیوستون ډیره دغمیزی نه ډک دی اوپه دی اړه ویلی دی که اوکرائین دناټووغړیتوب ته ونومول سی باید دروسيې واوسیدونکوته ویزه صادره کړی اواوکرائین به خپل ددی کړنی په وړاندی دروسيې لخوا دمناسب ځواب سره مخا مخ سی دروسيې جمهوررئیس څه موده مخکې اوکرائین ته يې ګوت څنډنه وکړاو وی ویل په هغه صورت کې که اوکرائین دناټوغړی سی اوددی نظامی تړون غړیتوب

ترلاسه کړی ، اوناټوپه دی هیواد کې اړه جوړه کړی روسیی به ودی ته اړ سی چې خپل دامنیت دساتلودپاره دغه به اړه ترنښی اونښان لاندی ونیسی اودمنځه یې یوسی ،دروسیی ددی کلکوویناوپه غبرګون سره داوکرائین جمهور رئیس یوشچنکواعلان وکړ: دناټونظامی اډی به په دی هیوادکې ځای پرځای نه سی ،داوکرائین اساسی قانون دنورو هیوادونونظامی اډی ته ددی هیواد په خاوره کې اجازه نه ورکوی اوهم دنوروهیوادونوسره ددی هیوادنظامی یووالی هم ددی هیوادداساسی قانونه څخه خلاف ورزی ده اومنعه کړی یې ده، دناټوسره داوکرائین مرستی دهیڅ بل دریم هیواد پرضد،خصوصآ دروسیی پرضد نه دي .

## دامریکا اولویدیز دریځ :

د(۲۰۰۷) م کال په لمړیوکې دامریکا جمهوررئیس ددی هیواد دسنا قانون یې چې داوکرائین اوګرجستان د هیوادونو سره مرسته ددوي دغړیتوب دپاره وناټوته یې سناتصویب کړی وو جمهوررئیس هغه یې لاس لیک کړ اودامریکا سنا دغه قانون یې د(۲۰۰۶) م کال دنوامبرپه میاشت کې تصویب کړی وو،دسناتووررریچارډ لوګار چې دبهرنیوچارواړیکوغړی دی دده دویناپربنسټ داوکرائین خاص جغرافیوی جوړښت دغه هیواد یې وناټوته ډېر په زړه پوری کړی دی ،ده چې په یوی خبری کنفرانس کې په کیف کې وینا کوله ، په همدی ډول سره یې وویل : دانرژی هغه لیکې چې داوکرائین دخاوری څخه ونوروهیوادونوته ځي اوددی هیواده څخه تیریږی داوکرائین رول اونقش یې داروپایی اولسونواوملیتونوته یې ډېر مهم اوحیاتی کړی دی .
په عین حال کې داروپا اتحادیه هیله منده ده چې دغه دوه هیوادونه(اوکرائین اوګرجستان) خپلی ستونزی دروسیی سره حل کړی اودمنځه یې یوسی اوخصوصآ دګرجستان په هکله دغه اتحـــادیه د دواړوپه جګړه کـــې راښکیل اړخونودمستقیمو خبراتراومذاکراتوڅخه ملاتړکوی .روبرت. ف. سیمونز دقفقازپه سویلی هیوادونوکې دناټوفوق العاده استازی د(۲۰۰۷) م کال دسپتامبرپه میاشت کې اعلان وکړ : ګرجستان وناټوته دغړیتوب په خاطر باید خپلی اړیکی دګاونډیوهیوادونوسره دهغه جملی څخه دروسیی سره عادی اوسم کړی . داروپااتحادیه همدارنګه په دی باور دی چې روسیه دګرجستان دیومهم ګاونډی په توګه دتل دپاره به شتون ولری ،ځکه دغه هیواد خپل دجغرافیوی بدلون په لټه کې نه دی او داوستیای او ابخاریا سره دخبرواتروپر پرمختګ دجګړیزوستونزوهواری اومشکلاتودلیری کولو، اودمنځه وړلودپاره دروسیی په ګډون سره بایدترسره سی ./

(نوربیا،په دیرلسمه برخه کې ادامه لري) **اخیځلیک :- دقطره نیوز ،اونووستی څخه**